**ټرمپ د بې پیلوټه الوتکو سیاست ته دوام ورکوي**




ډیلي پوسټ ورځپاڼې ته د امریکا د مرکزي مشرتابه لخوا د ورکړل شوو ګزارشونو پر بنسټ، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په سپینه ماڼۍ کې د خپلې ولسمشرۍ په لومړیو دوو کلونو کې، ۲۳۸ بې پیلوټه الوتکو ته د پرواز امر ورکړی. دا په داسې حال کې ده چې بارک اوباما د خپلې ولسمشرۍ په لومړیو دوو کلونو کې ۱۸۶ بې پیلوټه الوتکو ته پر پاکستان، سومالیا او یمن باندې د برید امر صادر کړی و. له ۲۰۱۷م او ۲۰۱۸م کلونو راهیسې ټرمپ د بې پیلوټه الوتکو په مرسته په یادو سیمو کې ۲۳۸ بریدونه تر سره کړي دي.

ټرمپ له بهرنیو جګړو څخه د امریکا د لرې ساتلو لپاره د رهبرۍ بشپړه کړنلاره غوره کړې او داسې تر سترګو کېږي چې «لمړی امریکا»، مقوله دا معنا لري چې لومړی برید کوي او بیا وضاحت ورکوي. د برید د سند له لاسلیک څخه ګټه اخیستل د امریکا لپاره بنسټیز دلیل دی، داسې چې امریکا هم قاضي دی، هم قسم ورکوونکی پلاوی او هم جلاد(سزا ورکوونکې).

**لیکوال: ذبیح الله رضوان**